د زده کوونکو او ښوونکو د حلقو

# جدول

# د اولاد درې حقونه

(قسط:1)

17 جولای، 2025



# د زده کولو او ښودلو د حلقو جدول

(1): پۀ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه (2): دُعا یادول: **5** منټه

(3): [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، **ټول وخت**: **15 منټه**-

نن به د زده کولو او ښودلو پۀ **حلقو** کښې **د اولاد درې حقونه (قسط:1)** ښودلے شي او **د فرض نـمونځ نه پس لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- پۀ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے**: پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوستل پۀ پل صراط باندې نُور دے، څوک چې د جُمعې پۀ ورځ پۀ ما باندې 80 کرته دُرُودِ پاک لولي د هغۀ به د 80 کالو ګناهونه معاف شي- (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اولاد درې حقونه (قسط: 1)

## آیت مبارک

الله پاک فرمائیلي دي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا قُوْۤا اَنْفُسَكُمْ وَ اَهْلِیْكُمْ نَارًا (پاره:28، سورهٔ تحریم:6) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: اے ایمان والؤ! خپل ځانونه او د خپل کور کسان د هغه وور نه بچ کړئ- |

یعني اے ایمان والؤ! ❀ د الله پاک پۀ عبادت کولو، د الله پاک پۀ احکاماتو باندې پۀ تللو خپل ځان او ❀ خپل بال بچ پۀ ښۀ تربیت کولو، پۀ ښۀ ادابو ښودلو هغوئي د دوزخ د وور نه بچ کړئ---!! (2)

1...الترغیب فی فضائل الاعمال، باب مختصر من الصلاة علی رسول الله صلی الله علیه وسلم، صفحه:14، حدیث:22-

2....تفسیر نور لاعرفان، پاره28، سورهٔ التحریم، تحت الآیت:6، صفحه:895-

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي:

أَكْرِمُوْا أَوْلَادَكُمْ وَأَحْسِنُوْا أَدَبَهُمْ

**ترجمه:** د خپل اولاد اِکرام وکړئ او هغوئي ته ښهٔ اداب وښايئ- [1]

## د اولاد درې حقونه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** اولاد د الله پاک یو عظیم نعمت دے، دِینِ اِسلام چې څنګه د مور او پلار د حقونو ادا کولو تاکید فرمائیلے دے، هم دغه شان یې د اولاد د حقونو ادا کولو حکم هم فرمائیلے دے، څکه که څوي وي او که لور د اولاد پهٔ مور او پلار ډیر حقونه دي- پهٔ کومو کښې به چې درې حقونه مونږه نن زده کوو-

راځئ چې زده یې کړو:

**وړومبے حق:** د ښې مور انتخاب کول

**وضاحت:** د اولاد د ټولو نه وړومبے حق کوم چې د هغوئي د پیدائش نه هم مخکښې دے، هغه د خپل اولاد د پاره د ښې مور انتخاب کول دي چې د بچي پهٔ ژوند کښې د مور ډیر اهمیت دے، مور چې څومره ښه وي نو د اولاد تربیت به هُغه همره ښهٔ کیږي څکه چې د عِلم او د تربیت شروع هم د مور د غیږې نه کیږي، څکه د نکاح د پاره د ښې، اخلاقي او د ښهٔ کردار والا زنانه انتخاب کول د اولاد وړومبے حق دے- نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: د زنانه سره پهٔ نکاح کولو کښې د 4 خبرو خیال ساتلے شي: (1): مال (2): حسب، نسب (3): ښائیست او (4): دین داري، بیا خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: تاسو دِین دارۍ له ترجیح ورکړئ- [2]

1....سنن ابن ماجه، کتاب الادب، باب بر الوالد والاحسان الی البنات، صفحه:591، حدیث:3671-

2....بخاري، کتاب النکاح، باب الاکفاء في الدين، صفحه:1312، حدیث:5090-

**دويم حق:** د بچي په غوږ کښې اذان کول

**وضاحت:** د پيدائش نه پس د بچي په غوږ کښې اذان کول سُنَّت دي۔ (1) خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: د چا چې بچے پيدا شي د هغهٔ په ښي غوږ کښې دې اذان او په کَڼ غوږ کښې دې اِقامت ووئيلے شي نو بچے به د اُمُّ الصِّبيان (يعنې د مِرګو د مرض نه) محفوظ وي۔ (2) اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ماشوم د پيدا کيدو نه پس چې ښوک په اذان کولو کښې ناوخته کول کوي، د هغې نه اکثر د مِرګو مرض پيدا کيږي، که د ماشوم د پيدا کيدو نه پس وړومبے کار دا وکړے شي چې د لمبولو نه پس ورته په غوږ کښې اذان او اِقامت ووئيلے شي نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ټول عمر به د بلاګانو وغيره نه محفوظ وي۔ (3) د ماشوم په غوږ کښې دې اذان هم هٔغه شان وکړے شي لکه څنګه چې د نـمونځ د پاره اذان کولے شي، بهتره دا ده چې په ښي غوږ کښې 4 کرته اذان او په کَڼ غوږ کښې درې کرته تکبير ووئيلے شي۔

**دريم حق:** تَحنِيک (ګهټي يا ګُړتي ورکول)

**وضاحت:** کجوره يا څهٔ خوږ څيز په خپله خُله کښې چقول او د ماشوم په خُله کښې ورکولو ته **تَحنِيک** وئيلے شي۔ دې ته **ګهټي** يا **ګړتي** هم وئيلے شي۔ تَحنِيک (ګهټي ورکول) سُنَّت دي۔ (4)

**وضاحت: د تَحنِيک په باره کښې مَدَني ګلُ:** ❀ تَحنِيک (يعنې ګهټي ورکولو) والا کجوره وغيره په خپله خُله کښې وچقوئ او نرمه يې کړئ، بيا يې د ماشوم په خُله کښې واچوئ ❀ نن سبا تَحنِيک (يعنې د ګهټي ورکولو) په وخت کجوره وغيره په خپله خُله کښې د چقولو نه بغير د ماشوم په خُله کښې اچولے کيږي، دا د تَحنِيک (يعنې د ګهټي ورکولو) صحيح

---

1....لمعات التنقيح، کتاب الصيد والذبائح، باب العقيقة، جلد:7، صفحه:220، تحت الحديث:4158۔

2....الجامع الصغير، صفحه:545، حديث:9085۔

3....ملفوظاتِ اعلیٰ حضرت، صفحه:417/418۔

4....لمعات التنقيح، کتاب الصيد والذبائح، جلد:7، صفحه:164، تحت حديث:4080۔

طريقه نۀ ده ❁ تَحنِيک د کوم نيک، صالحه پرهيزګاره پۀ ذريعه کول بهتر دي، د هغې برکتونه به يـې نصيب کيږي- د حضرت عائِشه صِدّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا نه روايت دے چې د نبي کريم رؤوف الرحيم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بارګاه ته به ماشومان راوستلے کيدل، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به د هغوئي د پاره د برکت دُعا کوله او تَحنِيک به يـې فرمائيلو- (1)

## دوهرائي

نن مونږه د مور او پلار درې حقونه زده کړۀ، پۀ ذِهن کښې يـې کښينوئ: (1): د ښې مور انتخاب (2): د بچي پۀ غوږ کښې اذان کول (3): تَحنِيک کول (ګهټي ورکول)-

## د ښودلو او زده کولو پۀ حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د فرض نـمونځ نه پس لوستلے کيدونکې دُعا

اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ يَا ذَاالْجَلَالِ وَالْاِكْرَام

ترجمه: اے الله! تۀ سلامتيا ورکوونکے يـې او هُم ستا د طرف نه سلامتيا ده، تۀ د برکت والا يـې اے د جلال او بزرګۍ والا! (2)

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نـمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نـمونځ نه مخکښې مو د نـمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَةُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نـمونځ نه پس مو آية الـکرسي، تسبيحِ فاطمه،

1.... مسلم، كتاب الطهارة، باب حكم بول الطفل الرضيع...الخ، صفحه:123، حديث:286۔

2.... مسلم، كتاب المساجد ومواضع الصلاة، باب استحباب الذكر 217، حديث:592۔

سُورَۃُالاِخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الـجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلې يا اوريدلې؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلې؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه پۀ بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکـتبة الـمدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟ (17): آيا پۀ تاسو او جي وئيلو سره مو خبرې کړې؟ (18): آيا پۀ مکـتبة الـمدينه بالغان کښې مو لوستلي، يا مو ښودلي؟ (19): آيا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پۀ دوو ګينټو کښې کورته رسيدلي يئ؟ (20) : آيا دوه ګينټې مو پۀ ديني کارونو باندې لګولي؟ (21): آيا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول کړي؟ (22): آيا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آيا پۀ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آيا د جومات درس مو ورکړے يا اوريدلے؟ (25): آيا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آيا د زلفو د پريښودو پۀ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آيا يو موټے ګيره مو پريښودې؟ (28) : آيا د ګناه کولو پۀ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آيا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آيا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آيا څۀ نا څۀ مو پۀ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آيا د ماسپښين سنتِ قبليه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آيا تهجد يا صلوٰةِ الليل مو ادا کړي؟ (34): آيا د اَوَّابِيْن يا اِشْرَاق او څاښت نـمونځ مو کړے؟ (35):آيا د مازديګر يا د ماسخوتن سُنتِ قبليه مو ادا کړي؟ (36): آيا پۀ 12 ديني کارونو کښې مو د يو ديني کار ترغيب ورکړے؟ (37) : آيا د نورو نه غوښتلے شوي څيزونه خو مو اِستعمال کړي نۀ دي؟ (38): آيا د دروغو، غيبت او چغلې

نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آیا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئیلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلې؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52): آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړهٔ ازارولو او پهٔ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پهٔ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

✿ پهٔ لیکلو خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ✿ پهٔ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته۔

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو څوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پهٔ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلي تپوس یا

غم خوري او د چا پهٔ وفات کيدو مو تعزيت [لاس نيوه] کړې؟ **(62)**: آيا پهٔ هفته کښې مو پهٔ يوه ورځ کښې روژه نيولې؟ **(63)**: آيا هفته واره رساله مو لوستلې يا اوريدلې؟ **(64)**: آيا علاقائي دوره مو کړې؟ **(65)**: آيا مخکښې راتلونکي او اوس د نهٔ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د ديني ماحول سره تړون پيدا کړو؟